# د کی جی بی جاسوس




Ketabton.com

ناول

لیکوال:  ادریس ساحل ساپی

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library


پیل

د حامد کرزی نړیوال ډګر کی د الوتکی ښکته شوم مسافر په کرار کرار د هوایی ډګره وتل ما هم د نورو لاره تعقیب کړه د هوایی ډګره د وتلو سره سم می د کابل په ښکلې ښار سترګې ولګیدلی زما اول ځل نه و چی کابل ته راتلم د دی مخکی دوه ځل راغلی وم ما د کی جی بی استخباراتو لپاره کار کوو زیاتره وخت به په عملیاتو بوخت وم افغانستان ته هم د عملیاتو لپاره راغلی وم دا ځل قومندان کنستانتین راغوښتی وم قومندان کنستانتین په افغانستان کی زمونږ د استخباراتو مشری په غاړه لرله د کابل په سرکونو تر څه ځایه پیاده لاړم وروسته می یو موټر ته د ودریدو لپاره لاس ونیو موټر ودرید د روسی تر سفارته یی په لږ وخت کی ورسولم په سفارت کی می تر نیم ساعت پوری دمه وکړه د سفیر خواته ورغلم دروازه می وټکوله د راتلو یی وویل دننه ورغلم سفیر د خپل ځایه پاڅید وویل البرټه راغلی

ومی ویل هو سفیر صیب

وویل لږ وخت کی راورسیدی فکر می نه کوو دومره زر به راشی

ومی ویل بیړنی ویزه می واخیسته د روغبړ وروسته په چوکۍ د کیناستو

یی راته وویل دواړه کیناستو د سفیر د چوکی مخی ته یو میز پروت و ګڼی

پاڼی پری پرتی وی ومی ویل سفیر صیب زه مو ولی راغوښتی یم

وویل کنستانتین درسره کار لری خبر شوی به وی اوس به راشی تر نیم

ساعت پوری مو په بیلا بیلو موضوعاتو خبری وکړی دروازه وټکیده

سفیر د راننوتو وویل په ونه دنګ چاق سړی دننه راننوت ما او سفیر

ودریدو سفیر وویل کنستانتین پخیر راغلی کنستانتین وویل خیر یوسی

سفیر صیب سفیر ورته د کیناستو وویل کینستانتین کیناست ما ته یی وکتل

وویل ښه دی وکړه چی ځان دی په بیړه راورسوو سفیر وویل حالات

څنګه دی کنستانتین سر وخوځو وویل هیڅ هم سم ندی څو ورځی مخکی

مو یو ملګری په بم وخوت د غوښو ټوټی مو ورته راټولی کړی پرون

خبر راغلی چی په شمال کی د سی ای ای ځینی استخبارات هڅه کوی

حالات خراب کړی او جګړه رامنځته کړی کنستانتین خبره اوږده کړه

وویل باید دغه استخبارات له منځه یوسو که نه نو جګړه به روسی پلوه

هیوادونو ته واوړی ما هم د همدی لپاره په البرټ باور وکړ تر څو د

هغوی خبره ورختمه کړی کنستانتین غلی شو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما وویل بیغمه اوسی قومندان صاحب زه به ستاسو باور مات نکړم هر څوک چی هڅه وکړه د روسی ګټو ته خطر پیښ کړی د روسی څخه مخکی زما دښمن دی زه به یی چاره وکړم او هغوی ته به وروښایم چی شوروی اتحاد ختم شو خو د شوروی اتحاد خلک پاتی دی

سفیر وویل زما د تا څخه همدا امید و بیا یی وویل زه او د سفارت ټول غړی ستا په خدمت کی دی مونږ به د خپلی وس څخه زیات د تاسو سره همکاری وکړو

کنستانتین وویل افرین ستا دا جرأت دی چی په تا زما باور زیات دی لږ غلی شو بیا یی وویل زه تا ته کسان درکوم د هغه کسانو په اړه ټول اسناد درکوم تا ته امر دا دی چی د هغو کسانو سرونه ما ته راوړه

ما وویل بیغمه اوسی زه ستاسو باور نه ماتوم زه به تر خپل وسه هڅه وکړم سفیر قومندان ته مخ کړ وویل زمونږ جاسوس څنګه ووژل شو

کنستانتین وویل تیره ورځ خبر شوم چې د پوتین په نامه زمونږ یو کس چې دلته یې نوم سید و او د ماین پاکی موسسی کی یی کار کوو د وسلوالو لخوا یو ایښودل شوی بم د شنډولو هڅه یی کوله چې چاودنه یې پرې کړې ده دا په سیمه کې تر ټولو پیاوړی استخباراتی و ډیر مهم خبرونه به یی راوړل خو د بدبختانه

سفیر وویل باید د هغې تشه ډکه کړی دا به ډیر مشکل جوړ کړی چی مونږ یو پیاوړی کس د لاسه ورکوو

کنستانتین وویل زه هم په هڅه کی یم یو کس می ورته خوښ کړی دی

ما وویل سفیر صیب ما ته خو به کوم مشکل نه جوړیږی

سفیر وویل څنګه مشکل

ومی ویل کیدای شی زه رسوا شم او ونیول شم یا ما هدف کړی او ومی وژنی

کنستانتین وویل وډار شوی زر می سر وخوځو ومی ویل نا مطلب می دا دی چی څومره زه کولی شم په ازاده توګه کار وکړم ځکه که هر څومره ما ته ازادی زیاته وی په همغومره اندازه زه زر تر زره کار ترسره کولی شم

کنستانتین وویل تا ته د افغانستان د استخباراتو کارډ جوړوم د حکومت لخوا به تا ته مشکل نه وی د وسلوالو سره هم مونږ ډیر کسان لرو هغه به هم د تا سره مرسته کوی د قومندان کنستانتین په دی خبره لږ څه پیاوړی شوم د شپی ډوډی مو په سپارت کی وخوړه د شپی ناوخته ما او کنستانتین چی څلور باډی ګارډان هم ورسره و د قرارګاه په لور روان شو قرارګاه ته د رسیدو وروسته کنستانتین خپلی خونی ته بوتلم خونه لویه وه د خونی مخامخ د یو میز شاته چوکی پرته وه په میز ګڼ کاغذونه پراته وو د ښی لوری په دیوال په یوه تابلو کی عکس و یو کونج ته د افغانستان بیرغ ولاړ و د بیرغ خواته څو کوچونه پراته و خونه ښکلی جوړه وه کنستانتین وویل ستړی به یی

ومی ویل: ډیر زیات

وویل همدلته پریوځه ځوک مزاحمت نه کوی ته اوس دلته د یو افغان په صفت اوسیږی ما ته به قومندان وایی قومندان جبار ستا نوم ضرار دی ته زما ملګری وی تر دی دمه په استخباراتو کی وی د هر چا سره به اړیکی نه ساتی ورو ورو به کسان وپیژنی

ومی ویل سمه ده

کنستانتین وویل دسبا څخه به پلان جوړ کړو اوس ته ویده شه په کوچ کی اوږد پریوتم سهار د کنستانتین په اواز د خوبه پاڅیدم لمر خونه رڼا کړی وه کنستانتین یو عسکر ته غږ وکړ په ونه لوی عسکر چی سپین مخ یی درلودو او ږیره یی ماشین کړی وه راننوت عسکری سلام یی وکړ وویل امر وکړی قومندان صیب

کنستانتین ورته وویل دا تر تشنابه بوځه

عسکر وویل امر دی پر ځای کیږی قومندان صیب

کنستانتین ما ته وویل بیرته همدلته راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library


عسکر وویل ما پسی راځه زه هم وروان شوم لویی دهلیز و ګڼ عسکر په
کی یوی او بلی خواته تلل عسکر له ما لږ مخکی و شاته یی وګتل ودرید
زه وررورسیدم وویل نوی ښکاری
ومی ویل هو استخباراتو کی دنده لرم سر یی د خا په بڼه وخوځو بیا یی
وویل نوم دی څه دی ومی ویل ضرار بیا یی وپوښتل قومندان صیب
پیژنی زیاته غوصه راغله دا پوښتنه پسی پوښتنه کوله خو بیا هم می ورته
وویل هو ملګرتیا سره لرو لکه زما د زړه په خبره چی پوهه شوی وی
نور څه یی ونه ویل تشناب ته ورسیدو وویل هر څه لری ومی ویل مننه
زه بیرته خپله ځم وویل سمه ده تشناب ته ننوتم حمام می وکړ د کنستانتین
راکړی دریشی می واغوسته په تشنابه کی راځوړندی هنداری ته می وګتل
نه پیژندل کیدم ما لوی غنم رنګه مخ درلود تور ویښتان خو می د پلار
نیکه میراث و د عادت سره سم می ږیره ماشین کوله د تشنابه راووتم د
کنستانتین کوټی ته ورغلم هغه د افغانستان د پوځ دریشی اغوستی وه زما
په ورننوتلو یی وویل ډیره ښکلی درسره ښکاری

(c) ketabton.com: The Digital Library


نږدی ورغلم په روسی ژبه می ورته وویل خو زه د دی دریشی څخه
کرکه لرم هغه زر زما په خوله لاس راکیښود د کنستانتین په دی کار
حیران شوم فکر می وکړ په کنستانتین افغانانو تاثیر کړی په ورو یی
وویل پښتو ویلی شی د خولی یی لاس راته لری کړ

ورته ومی ویل هو

وویل بیا پښتو وایه ته خو پوهیږی دیوالونه هم غوږونه لری ما سر د خا
په بڼه وخوځو

وویل زه هم په دی دریشی کی خوښ نه یم خو دا دریشی می د خپل هیواد
لپاره اغوستی ده د دی دریشی خاوندان هغه څوک دی چی زمونږه هغه
ستره واکمنی چی د نړی ټول هیوادونه یی په ګونډو کړی و د دوی د لاسه
ړنګه شوه کنستانتین خپلی چوکی ته کیناست زه هم ورته نږدی په چوکی
کیناستم دروازه ټک ټک شوه کنستانتیین ورته د راننوتو وویل یو عسکر د
چایو چیبر دوو پیالو او په یو قاب کی کلچی په پتنوس کی ایښی وی
راننوتو چای یی زمونږ مخی ته کیښود ما ته یی لاس ونیو وویل چرنینکو

کنستانتین وویل دا هم زمونږ کس دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما هم لاس ورکړ ومی ویل البرټ

وویل خوشحاله شوم ما هم د خوشحالی اظهار وکړ بیا یی کنستانتین ته مخ کړ وویل نن عملیات کوی

کنستانتین وویل چیرته

چرنینکو وویل ځو مجرمان چی د یو خبریال په قتل تورن دی د هغوی د نیولو لپاره په یو شخصی روغتون عملیات ترسره کوی

کنستانتین وویل تا ته چا وویل

چرنینکو وویل د قومندان محب خونی ته می چای وړی و هغی د جګړن موسی سره په دی اړه خبری کولی

کنستانتین وویل افرین ته تلی شی چرنینکو اجازت واخیست د باندی ووت

کنستانتین وویل دی ته به دلته د احمدضیاء نوم اخلی

ما وویل دا قومندان محیب څوک دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


کنستانتین وویل ډګر جنرال دی

ومی ویل سمه ده  اړیکی دی ورسره ټنګه دی

کنستانتین په داسی حال کی چی په یوه پاڼه یی امضا کوله راته وویل د جاسوس د هر چا سره اړیکی ښی وی دا د استخباراتو اصول دی چی د خر سره به ځانه خر کوی او د زمری سره به ځان زمری کوی

ومی ویل نو بیا ولی تا ته د دی عملیاتو په اړه نه وایی

کنستانتین یوه دوسیه خلاصه کړه وویل دا کوچنۍ عملیات دی اړتیا یی نه وینی

ومی ویل نو چی کوچنی دی ولې ځان تری خبروی

وويل د دی لپاره که چیری زمونږ کوم ملګری هدف شوی وی د نیول کیدو مخکی یی ونیسو زه هم نور غلی شوم تر یولسو بجو پوری کنستانتین په خپل کار لګیا و ما به کله کله یوه پوښتنه کوله نور غلی وم کنستانتین د کار ختمولو وروسته ما ته وویل اوس به په عملیاتو کار وکړو ما د خا په بڼه سر وخوځو کنستانتین په موبایل کی تر لږ وخت پوری لګیا وو پوهه شوم چی زمونږ ملګری یی راغوښتل موبایل بند شو کنستانتین غوږی کیښوده پاځید په الماریٔ کی تر څو دقیقو پوری څه ګټل وروسته یی څه دوسی په میز کیښودی لس دقیقی وروسته دروازه ټک ټک شوه څلور کسان راننوتل روغبړ مو وکړ نږدی کوچ ته کیناستل ور ومی ګتل ټولو پوځی دریشینی اغوستی وی دری سړی او یوه نجلی وه کنستانتین په کوچ کی ناست د کوز سر کس ته چی پنځه ویشت کاله عمر یی درلودو ګوته ونیوله وویل زید بیا یی ورپسی کس ته چی د درویشتو کالو په عمر وګوته ونیوله وویل ذیشان دا دواړه افغانان دی یو د ننګرهار او بل د کابل دی دواړه په سیمه کی بلد کسان دی بیا یی ورپسی کس ته چی اته ویشت کلن به و ګوته ونیوله وویل ولادیمیر دلته یی نوم سبحان دی بیا یی نجلی ته چی د څلورویشتو کالو ښکاریده ګوته ونیوله وویل یلنا دلته په لینا یادیږی بیا یی ما ته ګوته ونیوله هغه نورو کسانو ته مخاطب شو ورته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library 

البرټ دلته یی نوم ضرار دی تاسو پنځه کسان د دی سره ملګری یی په شمال کی به زمونږ کسان درسره همکاری کوی ناڅاپه دروازه وټکیدله د ټولو رنګونه والوتل کنستانتین ورخطا معلومیده په لړزیدلی لهجه یی وویل راځه یو په ونه میانه ځوان چی ښکلی څیره یی درلوده او پوځی دریشی یی اغوستی وه راننوت عسکری سلام یی وکړ

کنستانتین وویل څه خبره ده

عسکر وویل ډګر جنرال محیب تاسو غوښتی یاست

کنستانتین وویل سمه ده درځم عسکر اجازه وغوښته د باندی ووت

کنستانتین وویل زه بیرته ډیر زر راځم تاسو تر هغی یو بل وپیژنی کنستانتین ووت تر څو دقیقو پوری خاموشی وه ما خاموشی ماته کړه زید ته می وویل زیده ته څه کار کوی

وویل زه جګړن یم ننګرهار کی دنده لرم د دوهم کس نوم راځخه هیر شو ګوته می ورته ونیوله د نوم ویلو هڅه می وکړه ناکام شوم زید مداخله وکړه وویل ذیشان ما نوم د ځان سره تکرار کړ بیا می وویل ذیشان ته څه کار کوی ذیشان ورخطا شو په خبره کی بند شو پوهه شوم چی دا داسی دنده لری چی دا یی په ویلو شرمیږی ومی ویل شرمیږه مه هره دنده په خپل ځای مهمه ده د استخباراتو دا دنده ده چی هغه څه ترسره کړی چی ترسره کول یی سخت وی زه یو ځل په عملیاتو ترکی ته تللی وم هلته به می د خلکو تشنابونه وینځل په داسی حال کی چی ما کله خپل تشناب هم نه و وینځلی روسیه کی می یو ځل په هوټل کی لوښی وینځل خو زه نه شرمیدم دا فکر به می کوو چی زه څومره یم خو هیڅکله می دا فکر ندی کړی چی زه څومره خلکو ته ښکارم همدا لامل دی چی بریالی یم هغه موسک شو بیا یی وویل وزارت دفاع ته نږدی سبزی خرڅوم دنده می دا ده چی د وزارت دفاع څخه څوک وځی او څوک ننوځی

ما سر وخوځو ومی ویل وګوره دا څومره مهمه او پر ځای دنده ده بیا می وویل ولادیمیر یا سبحان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه وویل په یو روغتون کی ډاکټر یم لینا ته می وګتل دا د افغانانو په څیر
وه ومی ویل ته

هغه خبره واخیسته وویل زه هم په یو روغتون کی ډاکټره یم

ما ورته وویل لومړی خبره اوره بیا جواب وایه ما پوښتنه کوله چی ته د
کوم ځای یی ټولو وخندل

د هم نری موسکا وکړه بیا یی وویل د مسکو د مرکز بیرته یی خبره
راوګرځوله ته د کوم ځای یی او څه کار کوی

ومی ویل زه هم د مسکو بس هر کار کوم

وویل څنګه پوهه نشوم هر کار ومی ویل مطلب چی هر وخت عملیات
کوم نو چی کومه دنده مهمه راته ښکاره شی ترسره کوم یی مونږ تر
دولس نیمو بجو پوری خبری کولی هر یو خپله خاطره ویله د کنستانتین تر
راتلو مونږ یو بل ډیر ښه پیژندلی و دروازه خلاصه شوه کنستانتین
راننوت مونږ ټول پاڅیدو وویل په تنګ شوی خو به نه یی

(c) ketabton.com: The Digital Library 

ما وویل ډله برابره وه زمونږ فکر هم نه و خپل ګف مو لګوو کنستانتین
وویل تاسو دلته عملیاتو ته راغلی یاست نه چکر ته بیا یی وویل جلسه وه
هلته لږ مصروف شوم د ډوډی می ویلی راوړی یی لږ وروسته ډوډی
راوړل شوه ډوډی مو وخوړه افغانان مونځ ته لاړل پنځلس دقیقی وروسته
راغله مونږ د هغوی تر راتلو پوری شربت څکو د هغوی د راتلو وروسته
مونږ لا مجلس نه و دایر کړی چی دروازه ټک ټک شوه کنستانتین د راتلو
وویل یو په تنه چاق لوی سړی چی تر شا یی دوه کسان هم و راننوتو د
سپین ویښتان درلودل غنم رنګه مخ باندی یی ږیره نه ښکاریده کنستانتین
ودرید د کنستانتین د ودریدو سره سم ټول کسان ودریدل راغلی کس وویل
قومندان جبار په ډوډی او لمانځه کی نه ښکاریده ناروغ خو به نه یی

کنستانتین وویل نا قومندان صاحب میلمانه می وو د دوی سره حصار شوم

هغه سر وخوځو وویل سمه ده چی صرف کوم مشکل نه وی مونږ ته څه
خدمت

کنستانتین وویل مننه قومندان صیب هیڅ خدمت نشته هر څه شته دی
قومندان او ورسره سرتیری ووتل

کنستانتین وویل ډګر جنرال محیب و ما وویل خو دی دروازه کی یو کس ودروه که چیری مو څوک خبری واوری نو بیا مو خیر په روسیه کی هم نشته

کنستانتین وویل پلان سبا ته جوړو اوس په عادی موضوعاتو کار کوو سبا به بیا کس ودروو ما د خا په بنه سر وخوځو مجلس شروع شو

کنستانتین وویل سبا ته د شمال هغه استخبارات می راغوښتی چی تاسو سره په دی عملیاتو کی ګډون کوی

لینا وویل قومندان صیب د وسلو کار

کنستانتین وویل تاسو ته به هر څه مجهز درسیړی مشکل نشته تاسو اندیښنه مکوی دا سامان به تاسو ته پوره درورسیړی بیا د اوسیدو خبره شروع شوه هر یو خپل پلان ویله خو د هر یو پلان یو څه مشکل درلوده اخر زما پلان د ټولو خوښ شو تر ماخوستنه په پلان جوړولو لګیا و بیا د کنستانتین په خونه کی ویده شو سهار د دروازی په حلاصولو د خوب څخه راپاڅیدم وروړمی ګتل ذیشان او زید دننه راننوتل په خوبولی اواز می وویل چیرته تللی

(c) ketabton.com: The Digital Library


ذیشان وویل لمونځ مو کوو بیرته ویده شوم

ذیشان وویل پاڅیږی هر یو یی خوځو تول پاڅیدو

ولادیمیر یا سبحان وویل څه خبره ده

ذیشان وویل چای نه څښی

زه په خندا شوم ومی ویل تاسو افغانان عجیبه مخلوق یاست یو چای ته خلک داسی راپاخوی نو د یو کس د مرگ په وخت کی به یی څرنگه راپاخوی

ذیشان وویل ولی وډار شوی ولادیمیر یا سبحان وویل کابو دی راڅخه زړه ویستلی و ټول پاڅیدو د چای ښځلو وروسته د کنستانتین په خونه کی مجلس دایر شو نور کسان هم راغلی و کنستانتین خبری پیل کړی د شمال د استخباراتو هڅی یی وستایلی وویل هیله لرم تل په خپلو هڅو کی بریالی اوسیږی ما تشناب ته د تگ لپاره اجازه وغوښته په بیړه لړم د تشناب څخه چی کله راتلم د ځان سره می فکر وکړ چی زه باید د خونی شاوخوا وگورم که څوک زمونږ خبری په غلطی کی هم واوری غټ زیان به وکړو د دهلیز څخه باندی ووتم ناڅاپه می په دوو عسکرو چی د قومندان کستانتین خونی ته نږدی ناست و سترگی لگیدلی که دغه کسانو زمونږ خبری اوریدلی وی د ټولو لپاره یواځی یو زندان کافی و په بیړه د خونی په لور روان شوم په دروازه کی می په چرنینکو سترگی لگیدلی اخبار یی لوسته زه چی کله دروازی ته نږدی شوم د په بیړه وویل جنرال صیب په غونډه کی دی ویلی څوک راپرینږدی

ومی ویل ودی نه پیژندم د اخبار څخه یی سر پورته کړ وویل اوه ښښه

غواړم ورځی دننه چی کله ننوتم د کنستانتین خواته ورغلم وریاده می کړه
چی دلته پلان جوړول مشکل دی وویل ولی
ورته ومی ویل که څوک مو خبری واوری وویل څوک به یی واوری
ورته ومی ویل د باندی دوه کسان دی که جاسوسان وی خو کنستانتین نه
منله د ډیرو خبرو وروسته لږ پوهه شو پلان بدل شو په چکر باندی به لاړ
شو هیڅوک به مزاحمت ونه کړی مونږ وزګار خو کنستانتین اجازه
واخیسته په یوځی موټرو کی تر پغمانه لاړو ښکلی ځای و شین ځای و ښه
ساعت مو تیر شو د شا څخه چا غږ کړ البرټه شاته می وکتل احمد و احمد
سره ما تیر کال لیدلی و هغه وخت ننګرهار ته د عملیاتو لپاره راغلی وم
دا هم راسره په عملیاتو کی ملګری و د عملیاتو د ختمیدو وروسته یی
ډوډی راته وکړه ښکلی ډوډی وه د هغه په لیدو می د ډوډی خوند بیا په
خوله کی راتازه شو چرګ یی په څلور ډوله پوخ کړی و ماهیان پیرینی
کباب مطلب ټول دسترخوان یی ډک کړی و ډوډی مو په لاس کی نیولی
وی د روغبړ وروسته می ورته وویل بیا به ډوډی خورو درڅخه

هغی وخندل وویل د تا زار قربان بس هر وخت چی دی زړه و زه تیار یم
افغانان میلمه پال خلک و هیڅوک یی د کور څخه نه شړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورته ومی ویل څه مصروفیت لری

وویل تیره ورځ می د ښاروالی مدریت ته اسناد ورکړل لږ وخت وروسته

شاتلیس کیږی

ومی ویل روسان درسره مرسته نه کوی

وویل ولی نه مرسته خو کوی کنستانتین راته ویلی چی شپږ میاشتی

وروسته دی روسی ته لیږم

ورته ومی ویل روسی کی څه کوی دا ښه ځای دی

وویل دلته هره ورځ مرگ داسی ورځ نه راځی چی یو قبر دی نه کیندو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما یی خبره په خنده بدرګه کړه ورته ومی ویل ستا د مړو سره څه ته خپله
د استخباراتو سره کار کوی هره ورځ دی په مخ کی یو کس وژل کیږی
وویل افغانستان می نه خوښیږی مونږ په خبرو لګیا و چی یو کس غږ
کړی راځی ډوډی تیاره ده ډوډی مو وخوړه د کبابو سره چکنی ښه خوند
یی درلوده افغانانو لمونځونه وکړل مونږ خبری کولی وروسته مو غونډه
شروع کړه کنستانتین خبری کولی نور ټول غوږ و تر ماښامه پلانونه جوړ
شو او رد شو اخر هم هدف ته ورسیدو کورنی جوړول زه به په یو
ښوونځی کی ښوونکی شم لینا او ولادیمیر به په هغه سیمه کی چی د سی
ای ای جاسوسان په کی و نږدی په یو روغتون کی چی د سی ای ای نور
جاسوسان په کی و د ډاکټرانو په صفت دنده ترسره کوی ذیشان چی په
سیمه کی بلد و د سی ای ای جاسوسانو سره په سرک جوړولو پروجه کی
کار ترسره کوی ذید به د یو دوکاندار سره چی د روسی لپاره یی کار
ترسره کوو مزدور وی او د اسنادو ساتلو د خلکو څخه د سی ای ای د
کسانو په اړه معلوماتو پیدا کولو باندی مامور و ځینی کسان د وسلو په
رسولو مونږ ته د خوراک پیدا کولو مرسته کولو او نورو برخو کی
وګمارل شو مونږ به یو کور نیسو او د یو کورنی په صفت به په کی
اوسیږو شپه مو د کنستانتین سره تیره کړه په سبا مو ذیشان ولیږو د هغه

سره څو نور کسان هم لاړل ما به تل د پلان په اړه فکر کوو په سبا مو

لینا ولادیمیر او ذید ولیږل څو ورځی وروسته زه هم د څو کسانو سره یو

ځای په یو شخصی موټر کی لاړم ټولو ته د افغانستان تذکری راکړل

شوی په یو کور کی اوسیدو دوه اونی مو شاوخوا وګټله د دوو اونیو

وروسته مو دندی ترلاسه کړی زه په یو دولتی ښوونځی کی د دولسم

ټولګی د ښوونکی په صفت ګمارل شوی وم لینا او البرټ د ډاکټرانو په

صفت ګمارل شوی و خو د ذیشان کار سخت و ذید خو په دوهمه ورځ کار

شروع کړی و د ذیشان ګمارنه زمونږ څخه یوه اونی وروسته وشوه څلور

کسانو به څلورویشت ساعته د سی ای ای کسان څارل خو د ټولو جواب یو

و د هغوی وژنه سخته ده څو ورځی وروسته خبر شوم چی زمونږ یو

ملګری چی د سی ای ای کسان یی څارل نیول شوی دی هغی ځان

وسلوال معرفی کړی و ویلی یی و چی د پیسو لپاره یی غوښتل دغه کسان

وتښتوی مونږ باید دا خبره ثابته کړی وی په دی اړه می د شپی کنستانتین

ته خبر ورکړ هغه ټول ټینګار په پام کولو و وویل چی دا کار زه حل کوم

په سبا ورځ څو وسلوالو کسانو په انجینرانو ډزی وکړی یو څو پانی یی

هم غورځولی وی ذیشان وویل چی د شل زره ډالرو غوښتنه یی کړی ده

او ویلی دی چی زمونږ کس خوشی کړی د کسانو په اړه څیړنی پیل شوی

کسان د طالبانو کسان وختل د امریکا لپاره دا سخته وه چی خپل جاسوسان د طالبانو په خلاف ودروی پنځه ورځی وروسته یی زمونږ کس راخوشی کړ په ماښام ته ذید وویل چی خلک په دغه کس په خوشی کیدو سخت په غوسه دی وایی ولی هغه کسان چی په انجینرانو ډزی کوی په ضمانت د زندانه خوشی کیږی پوهه شوی چی روان پلان ناکام دی مونږ باید په نورو پلانونو کار کړی وی ځکه د دی پلان عملی کیدل شپږ میاشتی غواړی او په شپږ میاشتو کی به د سی ای ای کسان په امریکا کی خوشحالیانی لمانځی او په شمال کی به د ورځی په جګړه کی سلګونه کسان وژل کیږی ټوله شپه می په ویښه تیره کړی اخر می یو پلان جوړ کړ که په انجینرانو د بل لوری فشار راوړو نو په دی کار به وتوانیږو چی د هغوی چټک کار په ورو یا جام کړو کنستانتین ته می په دی اړه خبری وکړی کنستانتین ومنله په سبا مازیګر یی خبر راکړو چی سهار په اته بجی به تا ته یو کس درشی هغه دی اړوند کس ته رسوی هره ستونزه چی وی هغه ته یی ووایه حل به یی درته کړی سهار د کور مخی ته یو موټرسایکل ودرید زما په ورتلو یی وویل ضرار

ومی ویل هو

وویل بل نوم

ومی ویل البرټ

وویل راوخیژه موټر سایکل په بیره لاره لنډوله د نیم ساعت مزل وروسته په یو غر ورسم شو شل دقیقی لاره به مو وهلی وه چی موټر سایکل ودرید وویل نور باید پیاده لاړ شو نیم ساعت په غره کی مو مزل وکړ د یو کور مخی ته ودریدو کس دروازه ټک ټک کړه دروازه خلاصه شوه دا د یو کلا په څیر و دننه ورننوتم چای راته کیښودل شو چای می وڅښنه د ما سره راغلی کس به وتو او راننوتو خو د قومندان درک نه و شل دقیقی وروسته یو چاق سړی چی د پکول څخه یی ویښتان راوتلی و او په ولو یی پراته و تور واسکټ یی اچولی و سپینی جامی یی وی لاس کی یی شل ډزی ټوپک نیولی و اوږده ږیره باندی یی نکریزی وهلی وی راننوتو ماسره ناست کس پاڅید زه هم ودریدم د روغبړ وروسته په خپل ځای کیناستم

راغلی کس ما سره ناست کس ته وویل چای مو ورته راوړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه وویل هو قومندان صیب چای مو ورته راوړو

قومندان وویل د ډوډی غمه هم وکړی بیا یی وویل زما د اجازی پرته

څوک خونی ته راننوځی ځانته په ځانی شو وویل کنستانتین ما ته ستا په

اړه ویلی و هر مشکل چی وی ما ته یی ووایه زه ستاسو سره سل سلنه

همکار یم ما تری مننه وکړه بیا می ورته وویل روسی حکومت ستاسو

پشان زړورو کسانو هڅی ستایی او ستاسو منندوی به وی بیا می وورته

وویل تاسو د طالبانو قومندان یی دا یو اسلام پاله ډله ده شعار یی د دین

دفاع ده تاسو څنګه د دوی په ډله کی شامل شوی؟

قومندان اوږده ساه واخیسته بیا یی وویل د شوروی اتحاد د ړنګیدو

وروسته د مجاهدینو ډله په خپلو منځو کی ونښته ناڅاپه طالبان راپورته

شول مونږ هم طالبانو کی ځانونه ځای پر ځای کړل د مجاهدینو مو خپل

بدل واخیست خو امریکا د موقع په تمه وه چی موقع یی پیدا کړه بس

افغانستان یی ونیو مونږ هم همداسی پرینښوده افغانستان مو ورته بیرته په

ویتنام بدل کړ بس قدم په قدم ما هم همدا قومندانی ترلاسه کړه د طالبانو

ډله د بیلا بیلو ډلو جوړه شوی وه د پاکستان ای اس ای عربان غربیان

روسان او د افغانستان ځوریدلی ولس او د افغانستان د واک وږی مشران

بس دا هیواد یی خاوری کړو ما په خپله څلور روسی ټانګونه په شمال کی

د پولو واړول او په روسی می وسپارل که د روس وسله اوس د دی افغانانو سره وی نو هیچا به ورته خوله هم نه وی وازه کړی لاسوهنه خو لرې خبره ده اوس پاکستان ته وګوره د همدی وسلو زور دی چی امریکا هم پاکستان ته څه نشی ویلی

ومی ویل: اوس به خپلی خبری ته راشو

وویل: د هغی استخباراتو ډیره کلکه دفاع کیږی وژل یی سخت څه ناممکن دی

ومی ویل: د شوروی اتحاد پرځول هم ناممکن و خو د یو کوچنی هیواد چی خپله ژبه هم نشی پوره کولی لخوا ړنګ شو دا سی ای ای څلور استخبارات به څه شی وی

وویل: سمه ده زه د تا سره څه مرسته کولی شم

ومی ویل: وګوره د دی کسانو موخه په شمال کی د جګړو پیلول دی که چیری تاسو په دی کسانو بریدونه کوی د دوی پام به ټول تاسو ته وی مونږ به په ډیر ښه ډول خپل کار ترسره کړو

قومندان وویل: سمه ده خو که چیری هغوی په مونږ بمبار ترسره کړی زمونږ مشران به دا ونه منی

ومی ویل: ته ما ستاسو د مشر سره مخامخ کړه زه هغه ته داډ ورکولی شم چی دا به هغوی ته تاوان ونه رسوی مونږ تر غرمی پوری خبری کولی د غرمی ډوډی راوړل شوه د جګړو قومندانانو ته لس قسمه خوراک پروت و خو د دوی خوار ولس د ولږی له لاسه د بدن هر هډوکی شمارل کیده قومندان ډوډی راوړونکی ته وویل: قومندان زاهد ته هم غږ وکړه هغه به یی هم دلته وخوری څو دقیقی وروسته یو چاق قومندان چی ببر ویښتان یی درلودل او د دی بل قومندان په څیر یی ځان جوړ کړی و راننوت روغبړ می ورسره وکړ ډوډی ته کیناستو قومندان زاهد نیم ساعت په خپلو کارنامو وغږید خو ټوله خبره همدا وه چی د کفارو دومره ټانګونه مو وسوځول دومره زری پوشی مو کباړ کړی دومره ځایونه مو وسوځول دومره کافر مو ووژل بس ټول سوځول او وژل د ډوډی وروسته بیا هم په خپلو کړنو په بیانولو لګیا و اخر می صبر تمام شو ورته ومی ویل:

قومندان صیب تاسو خو وایی مونږ د دی ولس حکومت یو مشران او امیران هم مونږ یو؟

وویل: هو بیشکه مونږ دا خپل زمری ولس د کفارو غلامانو ته پرېږدو چی مشری پری وکړی

ما ورته وویل: خا چی داسی ده نو ووایی تاسو د اطلاعاتو او کلتور وزارت لری ؟

وویل: دا خو د کفر وزارتونه دی مسلمانان د اسلام څخه وباسی

ومی ویل :د ټکنالوژی وزارت لری؟ وویل دا ټول کفر دی دا خو چی څوک کاروی هغه کافر کیږی

ومی ویل: سمه ده دغه کفر شو د عامی روغتیا وزارت د برښنا وزارت د اقتصاد وزارت د پوهنی وزارت د لوړو زده کړو وزارت د حج او اوقافو وزارت دا خو اسلامی وزارتونه دی هیڅه یی هم د اسلام سره په ټکر کی ندی

(c) ketabton.com: The Digital Library


وويل: د لوړو زده کړو وزارت او پوهنی وزارت زمونږ نوی نسل ته کفر ورښایی د عامی روغتیا وزارت کی کفار هڅه کی د دوا په نوم پر مونږ د خنزیر غوښه وخوری او دا د حج او اوقافو وزارت خو هسی د اسلام لپاره چغی وهی څوک چی د کفارو پیسی خوری په هغوی کی به اسلام د کوم ځای څخه پیدا شی بس ټول کافر د افغانستان یو وګړی یی مسلمان پرینښود په اصل کی خو د دی مطلب دا شو چی افغانان اعراف دی نه به جنت کی وی نه به دوزخ کې هندو وایه زما په دین کې ندی شریک عیسوی وایی زما په دین کی ندی شریک یهودی وایی زما په دین کی ندی شریک بی دینه خلک وایی دوی خو خپل دین لری زمونږ سره ندی شریک د اسلامه خو دوی ویستلی دا څرنګه خلک دی

قومندان زاهد وویل: ته ولی د دی کافرو دومره دفاع کوی دا می ښه موقع وګڼله خو زما څخه مخکی ورته روسی قومندان وویل دا استخباراتو کی دنده لری دا ادعا کوی چی دا د سرک پروژی انجینران د سی ای ای کسان دی

قومندان زاهد حیران شو وویل: دا خو سرک جوړوی ما هغه ټول اسناد وروښودل چی ثابتوله یی دا انجینران د سی ای ای کسان دی بیا می ورته وویل دا کسان غواړی دلته جګړه پیل کړی او دا تاسو چی کومی سیمی نیولی بیرته یی درڅخه ترلاسه کړی کیدای شی دی کسانو ستاسو مشرانو ته ویلی هم وی چی جګړه پیل کړی دی به تاسو سره د هر قسم مرستو ژمنه هم وکړی خو دا یواځی پلان دی ستاسو په وسلو به بیرته تاسو ووژنی قومندان زاهد زما خبرو ته په دقیق ډول غوږ و او اوریدلی یی ما ډیر دلایل پیش کړل بیا غلی شوم

قومندان زاهد وویل یعنی دا د نمک حرام بچی کافر دی او ځانونه مونږ ته مسلمانان ښایی

ما وویل هو دا د دوی چل دی تر څو تاسو ده کاره وغورځوی

قومندان زاهد وویل دا کسان خو ماته هم راغلی و دا تا چی کومی خبری
وکړی دا ټولی یی ماته وکړی د هر قسم مرستو یی وویل وویل چی مونږ
په امریکا کی خیریه موسسه لرو د مسلمانانو مرستی راټولو او بیا یی په
مسلمانانو ویشو امریکا غواړی چی دلته میشته شی او دا ځای ونیسی خو
که ستاسو پشان جنګیالی دلته وی د امریکا دا خوب به هیڅکله پوره نشی

ورته ومی ویل تاسو د هغه کسانو په خبرو کی فکر وکړی ټول به یی
ویلی وی چی په حکومت جنګ وکړی د امریکا سره د جنګ بیخی خبره
نکوی

قومندان زاهد وویل هو همداسی وایی ما سره زما یو ملګری هم و هغه
ورته وویل چی په امریکایانو به بریدونه وکړو هغی ښکاره د کفر دعوی
کوی خو هغه یی خبره رد کړه ویل یی چی که حکومت ماته وخوری ټول
ولس به تاسو سره ودریږی او چیری چی ولس د حکومت ملاتړ ونکړی
هغه حکومتونه هیڅکله نه پاتی کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library


ومی ویل وګوره ته خو پوهه شوی

وویل زه به اوس د هغی انجینرانو سره ګورم

ما ورته وویل د هغوی ختمول زما کار دی تاسو بس دومره مرسته وکړی

چی پر هغوی بریدونه کوی خپلو سیمو ته یی مه پریږدی او مرسته

ورسره مکوی کنه نو په لږ وخت کی به ستاسو قومندانان د ځان تابع کړی

قومندان زاهد وویل زمونو قومندانان د کفارو په خبرو نه غولیږی ما ورته

وویل پیسی ډیر بد شی دی که یو میلیون ډالر هم ورته ومنی هر یو به

ورسره وی هر قومندان خو ستاسو پشان مسلمان او تکړه ندی هغه ځو ځل

دا خبره یاده کړه چی مونږ به یی ووژنو خو ما به ورته ویل چی نه مونږ

یی چاره کوو زه پوهیدم که چیری دا کسان د طالبانو لخوا ووژل شی

جنګ جوړ دی نو ځکه ما هڅه کوله تر څو هغه د دی کار څخه

راوګرځوم مازیګر یی همغه کس چی زه یی تر دی ځایه رارسولی وم

راسره شو او بیرته یی خپل ځای ته ورسولم د شپی می ټول معلومات د

نورو ملګرو او کنستانتین سره شریک کړل ټول خوښ و دا یو ډیر لوی

پرمختګ و د ډیر وخت وروسته د شپی ښه خوب می وکړ

په سهار ښوونځی ته لاړم ما به ټولی خبری په جهاد کولی زه پوهیدم

افغانان د جهاد سره ډیره مینه لری د دی د لاری کیدای شی ځینی کسان

زما ملګری شی دا کار به د سی ای ای باندی سخت ګوزار وی ځکه د دی
ځای خلک د سیمی سره اشنا و او بل چا شک هم پری نکوو خو نن می
پوښتنی وکړی ځکه که زه هر وخت دا خبری کوم کیدایشی څوک شکمن
شی ومی ویل کابل ته ولی کابل وایی ټول غلی و هیچا جواب نه راکوو د
ډیر قناعت او ډاډ وروسته یو ګوته جګه کړی ومی ویل افرین ووایه

وویل په نوم ورته کابل وایی که نوم تری لرې کړی نو هیڅ هم نه پاتی
کیږی د دی په خبره ټول په خندا شو ما هم خندا کنټرول نکړه هغه کیناسته
د ځان سره یی خندل ټولو کډی وډی ویلی یو هم ونه ویل چی کابل په
پایتخت کابل دی بس ټولو ګډی وډی ویلی

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا می وویل هغه کوم ځای دی چی د انسانانو ښځه په کی رکشی ډیری

وی دا په اصل کی د رکشو بارګین دی چی خرڅوونکی یی یو خو رکشی

ډیری وی خو دوی بیل بیل څه ویل چا ویلی ننګرهار چا ویل هند چا ویل

چین چا ویل امریکا خو په اخر کی یو غلی ناست هلک چی خبری یی

دومره نکولی وویل چی د رکشو بارګین ټولو پسی خاندل

ما وویل د دی جواب سم دی خو دوی دا خبره په رشخند واخیسته یو به

ورته د یو ځایه ناری وهلی بارګینه بل به د بل ځایه دوی ټول لیونی و

هغه یوه ټوکه ده وایی په یو کلی کی لیونی و ډاکټر ورغلی و چی دلیونی

درملنه وکړی نو یو کس په مخه ورغلی و ډاکټر ورته ویلی و چی دلته

لیونی څوک دی هغه کس ورته ویلی و چی زه یی هم نه پیژنم خو زه

خلکو پسی خاندم خلک ما پسی خاندی په اصل کی دا ډاکټر چی د چا سره

مخ شوی و دا لیونی و دوی هم لکه همغه لیونی چی دوی په هوښیارانو

پسی خاندلی او هوښیارانو دوی پسی دوه اونی تیری شوی حالت ښه شوی

و د سی ای ای کسانو تیز پرمختګ ډیر ورو شوی و د غرمی وخت و د

کور دروازه ټک ټک شوه ورو ورغلم د تمانچی لټ می کش کړ

ومی ویل څوک یی

(c) ketabton.com: The Digital Library


د هغې لورې غږ راغلی ښوونکی مونږ یو ستا زده کوونکی حیران لاړم

ځان سره په فکر کی شوم ما ویل دا به څنګه راغلی وی دروازه می

خلاصه کړه دننه راننوتل اته تنه و خونه کی می کینول شربت می ورته

راوړو هغوی شربت څکو ومی ویل خیرت خو دی یو چی د نورو لږ

چالاکه ښکاره کیده او عبدالله نومیده وویل ښوونکی تاسو د جهاد خبری

ډیری کوی

ما وویل هو

هغه وویل بس مونږ هم اراده کړی ده که خیر و بس شهیدان کیږو به

ومی ویل ټولو

عبدالله وویل هو

ورته ومی ویل څنګه ټولو یو دم اراده کړی ده

عبدالله وویل مونږ یو څو کسانو د مخکی اراده کړی وه خو موقع نه برابریده اوس چی تاسو ښوونکی شوی دا یو څو نور هم راسره ملګری شو د دی خبرو په اوریدو می په زړه کی ګوړی ماتولی ځان سره می ویل زه کار خو وشو بیا می د جهاد ګټی بیان کړی د هغی حاجت می یاد کړو چی په دی وخت کی ورته څومره حاجت دی ما د جهاد په اړه مکمل درس یاد کړی و دوه کاله مخکی پاکستان ته تللی وم هلته می په یوی دینی مدرسه کی درس ورکوو د همدی امله په اسلام ډیر پوهیدلم هغوی ته می وویل تاسو باید لږ روزنه ترلاسه کړی تر څو رسوا نشی

وویل مونږ به څنګه روزنه ترلاسه کړو

ورته ومی ویل ګوری زه تاسو ته روزنه درکوم تاسو دلته راځی بس زه به مو په څو ورځو کی ښه وروځم

وویل مونږ به څنګه دلته راځو مونږ خو کورنۍ لرو

ورته ومی ویل کور کی ووایی چی کورس کی مو ځان اچولی دی بس راځی لږ درس به وایی بیا به خپل کار ترسره کوی

ورته ومی ویل د پلار یا د کورنی کوم بل غړی خو به مو خاری نه وویل کیسه کی مو هم ندی چی مونږ چیرته ځو څه کوو بس هر کس د ځان په غم کی دی ومی ویل د اوس څخه به یی شروع کړو د هغی روزنی پنځه ورځی وخت ونیو بیا می په ښار کی لږ ترنینګ کړل ما ویل پوهه شوی که نا بس په اتمه ورځ می ورته د سی ای ای کسانو د خارلو وویل دوی ډیر ښه تمام شول د سی ای ای هر کار پوره جزیات به یی راوړل د دی تر څنګ تبلیغاتو کی یی هم ډیره ونډه اخیسته هره ورځ به مو د دوی په مرسته د سی ای ای په اړه ګونګوسی خپرولی نن به مو ویل ښه خلک دی سبا به مو ویل د طالبانو کسان دی بل سبا به مو د سی ای ای کسان کړل زمونږ دی پټو خطرناکو دسیسو او مونږ سره د طالبانو مرستو په سی ای ای شدید فشار اچولی و د پنجشنبی ورځ وه کابو د غرمی یوه بجه او اته دیرش دقیقی وی د ذیشان لخوا زنګ راغلی وویل د سی ای ای کسان نن کابل ته ځی

ومی ویل ولی

ذیشان وویل کیدای شی د دی وروستیو پیښنو په اړه خپلې اداری ته خبر ورکوی او حل لاری یی ګوری ما ورته وویل ایا داسی څه خو به نه وی چی زمونږ پاتی کیدل ورته مهم وی

ذیشان وویل نا دلته پاتی کیدل بی ګټې دی

ما ورته وویل سمه ده مونږ هم ورسره ځو دلته د کار سره مو زړه په تنګ شو

ذیشان وویل سمه ده ښه پریکړه ده ذید ولادیمیر او لینا ته می خبر ورکړو ولادیمیر لنډه رایاده کړه وویل د سی ای ای ډاکټران یعنی هغه کسان چی په روغتون کی یی دنده ترسره کوله کابل ته ځی ما اوس تا ته زنګ وهو خو ته رامخکی شوی

ما ورته وویل ما هم همدی پسی زنګ وهلی و د سی ای ای ټول انجینران
هم کابل ته ځی مونږ هم ځو لینا د ځان سره راواخله او راشه د خپلو
ملګرو د خبرولو وروسته د ټولو اړین کالی می راټول کړل نیم ساعت
وروسته زید راغلی څو دقیقی وروسته ولادیمیر او لینا هم راغله یو ساعت
ووت خو د ذیشان درګ ونه لګید زه هم په ورو ورو ورخطا کیدم د ځان
سره به می ویل که ذیشان ونیسی مونږ ټول به لمنځه لاړ شو ولادیمیر ته
می وویل زر زر ټول اسناد راواخلی کور پریږدو لس دقیقو کی مو ټول
کور خالي کړ موټر ته وختو او د محسن دوی کور ته لاړو ذیشان ته می
بیا زنګ ووهو زنګ ورغلی د هغی لوری جواب راغلی سلام

ومی ویل چیرته یی

وویل کابل کی

ورته ومی ویل ځنګه کابل کی یی وویل مونږ په طیاره کی راغلو د
انجینرانو سره زه هم راغلم د شنبی په ورځ بیرته درځو تاسو اندیښنه
مکوی ذیشان ته چا په ورو وویل څوک دی څه وایی ذیشان ورته وویل
ورور می دی وایی چیرته یی هغه کس ورته وویل ځای چا ته مه ښایه
ذیشان ورته وویل سمه ده انجینر صیب بیا یی ما ته وویل بس تاسو بی
غمه اوسی هیڅ خبره نشته موبایل می بند کړو زیات خوشحاله وم ذیشان د
هغوی منځ ته داخل شوی و ټول یو ځای کابل ته راورسیدو د کنستانتین
خواته ورغلو ښه راغلاست یی وکړو د ټولو پرمختګونو په اړه مو ورته
وویل خو هغه تر ټولو زیات دی دوو پرمختګونو ته زیات خوشحاله و د
ښوونځی زده کوونکی مو د سی ای ای په څارلو ګمارلی او ذیشان د سی
ای ای د کسانو سره دی ورته ومی ویل که مونږ زده کوونکو ته پیسی د
معاش په توګه ورکړو دوی به نور هم ښه کار وکړی کنستانتین ومنله د
جمعی په ماښام د کنستانتین لخوا ضروری شیان راکړل شو نیم ساعت یی
مشوری راکولی زمونږ دا کار یی ډیر وستایو چی د سی ای ای کسانو کار
مو ودرولی دی د جمعی په ماښام روان شو سهار نږدی خپل ځای ته
ورسیدو شیان مو بیرته ځای پر ځای کړل تر غرمی ویده و غرمه مو زده
کوونکی راغله وویل چی نن هغه کسان نه و خو دوی هلته ځینی داسی

(c) ketabton.com: The Digital Library


کسان ولیدل چی په هغه ځای یی څار کوو د جلال په نوم یو دانه زده کوونکی وویل زه د هغه کسان هغی ځای ته تللی وم چیری چی هغوی اوسیږی ومی ویل څه دی پیدا کړل

جلال وویل څلور کسان دننه په اتاق کی و وسلی یی هم لرلی څوک یی نه پریښوده چی هلته نږدی ورشی یو ماشوم می ورولیږو تر څو پام وکړی چی هغوی څه کوی ماشوم بیرته په ژړا راغلی ویل یی ووهلم او هلته یی پرینښودم پوهه شوم چی هلته ډیر اړین اسناد دی خو د جلال د خبرو د مخی دننه ورتګ ناشونی و ما هر یو ته پیسی ورکړی زیات خوشحاله شول خو زما تینګار دا و چی باید ډیر معلومات پیدا کړی مازیګر ذیشان کور ته راغلی پوهیدم ډیر معلومات به یی راوړی وی د شپی مو خبری وکړی ویل یی د سی ای ای کسان ډیری پیسی ورکړی او په بدل کی تری غواړی چی د دوی سره همکاری وکړی د خلکو خولی دی بوی کړی که چیری تری هغه کسان وپیژنی

ورته ومی ویل هغوی د څه په اړه خبری کولی

ذیشان وویل زما په اند کیدایشی خیرنه وکړی چی دا کسان څوک دی باید احتیاط وکړو د شپی ناوخته ویده شو د سهار کابو شپږ نیمی بجی وی د بسترو څخه پاڅیدو ذیشان او زید وختی پاڅیدلی و د چای د څښلو وروسته زه ښوونځی ته لاړم تر غرمی پوری ښوونځی کی وم غرمه کله چی د ښوونځی راغلم پوهه شوم چی په کور کی څوک شته په ډیر احتیاط می د کور دروازه بیرته کړه دی کور څلور خونی درلودی دوه مخامخ یوه یو طرف ته بله بل طرف ته ښی طرف ته د خونی خواته تشناب و او چپ طرف ته بیا پخلنځی و د اوبو لپاره کوهی د حویلی په منځ کی کیندل شوی و خونی ته په ډیر احتیاط ننوتم یوی انجلی زمونږ محرم اسناد لټول زما پر ورننوتو یی شاته راوګتل بیرته یی په اسنادو کی سترګی خښی کړی تر څو دقیقو پوری یی اسنادو ته ګتل بیا یی ما ته وویل البرټه که زمونږ پلان ناکام شی

ورته ومی ویل لینا ته ولی زړه خوری که ناکام شو ناکام بیا به هڅه وکړو
او ربښتیا که کامیاب شو څه به وشی زما لوری ته یی وکتل خوله یی
وخوځیده وویل که کامیاب شو په مونږ به د ټولی روسی ولس وویاړی د
روسی ولسمشر به مونږ ته سلامکی ووهی د استخباراتو وزیر به مونږ
پسی تر هوایی میدانه راشی هغه ورځ به زه ډیره خوشحاله یم ما یی پر
خبرو وخندل ورته ومی ویل خا خا خا تا دا فکرونه وهل ځکه روغتون ته
نه یی تللی

وویل نا طبیعت می لږ خراب و ځکه نه یم تللی خبرو ته یی ادامه ورکړه
وویل دا د حقیقت څخه لری هم نده چی پر مونږ د روسی ولس وویاړی
ومی ویل سمه ده دا درسره منم خو د استخباراتو د وزیر راتګ او د
روسی د ولسمشر سلام دا درسره نه منم لینا وخندل وویل ستا ولی زما
خبرو ته یقین نه راځی

ما وویل ځکه ستا خبری بیځایه دی ذید دروازه ټک ټک کړه ورغلم ډوډی
می تری راواخیسته ډیره یی راوړی وه ویل یی لینا هم همدلته ده ځکه می
ډیره راوړه

مونږ خپل کالی ورو په ورو راټولول او د خپل هدف لپاره مو اقدام کو
دوه اونی وروسته د افغان زده کوونکو چی د مونږ سره یی په استخباراتو
کی دنده ترسره کوله خبر راکړ چی د سی ای ای کسان څه ته په تیاری
بوخت دی خپل یو نیم کالی راټولوی په سبا د کنستانتین د لوری خبر
راغلی چی د سی ای ای کسانو د شمال لوړ پوړی چارواکی تر څیړنی
لاندی نیولی وویل دا خبر ورته په شمال کی یو جګ پوړی چارواکی
ورکړی تاسو باید خپل کار رالنډ او زر ترسره کړی د شپی وسلی هم
راورسیدی په سبا مو ټول پلان ونیو ټول انجینران کابل ته تلل مونږ هم
څلور کسان لار ته ولیږل تر څو د مخکی هلته کینی مونږ اته کسان پاتی
شو ذیشان د شپی وویل کیدایشی ما هم د ځان سره بوځی هغوی په دوو
موټرو کی ځی ذیشان می پوهه کړ هغه ځای چی مونږ پکی برید ترسره
کوو دا باید د موټر څخه کوز شی او د سی ای ای کسانو موټری ودروی
زمونږ پلان صحیح وختو د سی ای ای کسانو ذیشان هم د ځان سره روان
کړی و مونږ په یو موټر کی د شا تعقیبول د هدف لپاره مو یو ځای ټاکلی
و دلته سرک نیغ تللی و د دی ځای پنځوس متره لری چی سرک تاو شوی
و یو جګ ځای و یی مخی ته و زمونږ نور ملګری ناست و مونږ په دوو
موټرو کی د شا راروان و د سی ای ای د لومړی موټر د ودریدو سره

دوهم هم ودريد ذيشان د لومړی موټر څخه ښکته شو ورپسی دوه نور
کسان هم ښکته شول ذيشان لږ اخوا لاړی او د رفع حاجت په بهانه داسی
ځای کی کيناست چی مرمی پری نه لګيدی ما زمونږ شاته دوهم موټر ته
اشاره وکړه پوهه می کړ چی دوهم موټر ستاسو هدف دی موټری مو
وځغلولی د موټروان د سر څخه وينو داره وکړه ورپسی دوهم مرمی د يو
انجينر په مخ لګيده بيا  مو زربه پری ووهله د دوهم موټره خو لينا او
ولاديمير څه بل څه جوړ کړی و د موټره ښکته شوی کسان د ذيشان د
مرميو ښکار شول ټول کسان مو وګتل يو يی لا ساه اخيستله د تندی يی
وينو داره وکړه ذيد خپلی توپانچی ته وګتل بيا يی ټوپک ته ووبل توپانچی
هم جهاد وکړو ذيشان د مونږ سره وختو هغه نورو ته مو خبر ورکړ ورته
ومی ويل چی ځی مونږ هم روان شو د ولاديمير دوی موټر له مونږه
مخکی و لږ وروسته پناه شو څو دقيقی وروسته مو د څه شی د چپه کيدو
غږ واوريد کله چی ورورسيدو د ولاديمير دوی موټر څو سرکوندی
اړولی وی او د سرک اخوا پروت و ټول کسان مو تری راوويستل دوه يی
ښه و خو د ولاديمير او لينا حالات خراب و خپل موټر ته مو وخيژول په
بيړه مو حرکت وکړ کنستانتين ته می خبر ورکړ د خوشحالی ناری يی په
موبايل کي راتلی د ولاديمير او لينا می ورته ووبل دوی دواړه بی هوشه

(c) ketabton.com: The Digital Library 

وو

وویل روسی سفارت ته راشی  خو موټر مو باید بدل کړی ځکه تاسو کیدایشی ډیر زر د څار لاندی راشی موټر موهم بدل کړو څو ساعته وروسته سفارت ته ورسیدو  هغه دواړه مو د سفارت ډاکټر ته وښودل

وویل ولادیمیر بی هوشه دی ډیر زر به په هوش راشی خو لینا یو ساعت مخکی د خپل روح سره مخه ښه کړی د لینا په مرګ ډیر خپه شوم د سفیر خواته ورغلم کلک یی په غیږ کی ونیولم تلویزیون ته می وکتل د انجینرانو د وژل کیدو خبر تری خپور شو امریکایانو بیا ویل چی برید کوونکی مو وژلی او د برید کوونکو سره د مرستی په تور مو دری کسان چی جګړه یی غوره کړه ووژل او دوه مو ونیول په تلویزیون د ولادیمیر دوی جپه شوی موټر چی په توغندی ویشتل شوی و او په اور کی سوځیده ښکاره شو دری ورځی مو په سفارت کی تیری کړی ځکه مونږ ته خبر راکړل شوی و چی سی ای ای به د خپلو کسانو غچ پرینږدی په دریمه شپه زه ولادیمیر د لینا جسد د روسی سفیر کنستانتین او پنځه تنه نور راسره مل و په یوه طیاره کی مو د روسی په لور سفر وکړ سهار اته بجی به وی چی روسی مسکو ته ورسیدو نور کسان ښکته شول زه کنستانتین ولادیمیر او د لینا جسد وروسته ښکته شو حیران لاړم د لینا خبره صحیح وه زمونږ د بریا له امله زمونږ مخی ته ډیر کسان راغلی و خو د لینا خبره دومره غلطه وه چی هغه نه و ویلی چی د روسی ولسمشر به زمونږ مخی ته راځی د لینا جسد ته می وکتل په تابوت کی ایښودل شوی و ارمان یی راغلی ما ویل کش چی ژوندی وی او دا ننداره یی لیدلی وی خو لینا د

دی دنیا سره خدای پامانی کړی وه ولسمشر د استخباراتو وزیر او په لمبر
یو یو کس ته می غیږه خلاصوله د روغبړ وروسته ولسمشر لنډی خبری
وکړی چی زه یی حیران کړم او زما خوښی یی دوه برابره کړه وویل دا
داسی استخبارات و چی مونږ یی په وژلو کی پاتی راغلو دا اخیری موقع
و د دی استخباراتو د وژلو لپاره زمونږ زیات اتلان مړه شو چی یوه اتله
یی اوس تاسو دلته وینی دا ملت ستاسو پشان د سره تیرو خلکو باندی
ویاړی مونږ البرټ ځکه وټاکو چی دا نه و خبر ځینی وخت د دښمن د
قوت څخه ځان خبرول غوره او ځینی وخت بیا ځان نه خبرول غوره وی
اوس هم ځان نه خبرول غوره و د روسی حکومت هغه افغانانو ته چی
مونږ سره یی په دی عملیاتو کی مرسته کړی وه او خپل ژوند یی په خطر
کی اچولی و د روسی تابعیت او د عملیاتو روسی ګډونوالو ته یوه یوه رتبه
ورکوی د روسی حکومت به د دوی هڅی چی په دی لاره کی یی ګاللی
دی هیری نکړی او دا شعار دی تل ژوندی وی چی شوروی اتحاد ږنګ
شو خو د شوروی اتحاد د خلکو فکرونه زړونه او قوت لا همغه دی او بیا
یی په تیز اواز وویل ژوندی دی وی روسیه ژوندی دی وی دا ملت دا
اواز ټولو بدرګه کو نور غلی شو یوه میاشت تیره شوه خو زما د زهن
ناروغی ښه نشوه تل می لینا سترګو ته کیږی خو د لینا می زیات هغه

افغان زده کوونکی یادیږی چی د ناپوهی د وجی یی خپل ځانونه د مرګ
ګندی ته وروغورځول ذیشان راته د هغه افغان زده کوونکو کیسه تیره
کړه دری یی د امریکایی ځواکونو سره مخامخ جګړه وکړه او مړه شول
دوه تنه یی د ګونتنامو د زندان اسیران شول دا زندان داسی دی لکه
اتشفشان چی اور تری راخیژی انسانان په کی داسی وی لکه په ژوندینی
چی مړه شی هلته نه یواځی دا چی جسدونو ته عذاب ورکول کیږی بلکی
روحونه هم ځوروی دری نورو بیا په قاچاقی لارو لاړل یو یی د مدیترانی
سمندر د ماهیانو خوراک دوهم په یونان کی په یو زندان کی اوسیږی دریم
یی بیا جرمنی ته لاړو هلته د مهاجرت ژوند ترسره کوی د مهاجرات
داسی ژوند دی چی د نړی تر ټولو زیاتی ستونزی لری او د نړی د ټولو
انسانانو سربیره حیوانات او څاروی هم تری پناه غواړی زه افغانانو ته
حیران وم دوی خپل پاک کتاب باندی عمل کوو ما یو وخت د یو عالم څخه
د قران کریم څو ایاتونه اوریدلی وو دوی په دی عمل کوی چی قران وایی
د الله تعالی په لاره کی جهاد وکړی حق جهاد خو بیا په دی ایات عمل
نکوی چی الله تعالی وایی ټول مؤمنان ورونه دی یو د بل سره سوله
وکړی تر څو الله تعالی په تاسو رحم وکړی دا څرنګه خلک دی یوه ورځ
می د افغانستان یوه رسنی اوریدله د اول تر اخر ټول دومره مړه دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټپيان نه په هوټل رحم نه په کور رحم نه په جومات رحم جومات کی

انفجار وکړی وايی جهاد می وکړ د عامو خلکو پل په بم والوځوی وايی

جهاد می وکړو بس د پټو سترګو توغندی دی خوشی يی کړه که هر ځای

ولګيد اعلان وکړه جهاد می وکړ ځوک دا نه ګوری چی په مسلمان جهاد

وشو او که مسلمان جهاد وکړ په همدی فکرونو کی ډوب وم او رسنی ته

می ګتل بيړنی خبر و کابل کی په يو پوهنتون ځانمرګی برید ننګرهار کی

د هوايی ځواک لخوا د يو کلی بمبار کيدل کابل کی په يو جومات کی

چاودنه کاپيسا کی د سولی غوښتونکی يوه نجلی مدنی فعاله چی د اوربند

غوښتنه يی کوله د نامعلومو وسلوالو له لوری پری ډزی ترسره شوی چی

په کی وژل شوی کابل کی په يو نسايی روغتون د وسلوالو له لوری برید

کونړ کی د قران د حافظانو تر منځ په يوه مسابقه باندی توغنديز برید

لوګر کی د کانکور ازموينی لپاره راټول شوی زده کوونکو باندی موټر بم

چاودنه ننګرهار کی د ښځينه ډاکټرانو وژنه کابل کی په خبرياالنو چاودنه

ننګرهار کی په ښځينه واکسيناتورانو برید او وژل کيدل تلويزيون په پرده

وينی ښکاريدی يو کس خپلی پښی ته ګتلی چی په چاودنه کی تری بيله

شوی وه بل ماشوم په ښار کی منډی وهلی په سپينو جامو يی د تندی

راغلی وينی يوه ډله خلک لګيا و د خاورو بیخ ته پراته مړی يی راويستل

تلویزیون می بند کړو د شپې ټوله شپه ډاریدم مړی کفنونه وینی تر سهاره ویده نشوم سهار چی راپاڅیدم د بی خوبی له امله می سترګی سری وی د خراب خوبونو د لاسه خو می سر چاودیده د خاطراتو کتابچه می راواخیسته ومی لیکل ما د افغانانو د ژوند یو ورځنی حالات په تلویزیون کی ولیده ټوله شپه می خوب ندی کړی زه حیران دیته یم چی افغانان هره ورځ دا حالات وینی دوی به د شپې خوب څنګه کوی او ژوند به څنګه تیروی دا لیکنه می پوره کړه خپل ګریوان ته می وکتل د اوښکو له امله ټول لوند و دا اوښکی د افغانانو لپاره وی په بل مخ کی می ولیکل تاریخ به ولیکی په نړی کی داسی قوم اوسیدو چی د انسان وژنه ثواب حیوان وژنه ثواب د بریښنا د پایو ړنګول ثواب بس دلته هر څه ثواب و هر جرم ثواب و او دا د نړی بدبخته خلک چی په تیر تاریخ فخر کوو او د راتلونکی لپاره هیڅ غوره فلان نلرو او د یو وخت ډوډی نلرله مازیګر به یی د وطن د جوړولو لپاره څو هیوادونه ړنګ کړل بس خیالی ودانی به یی جوړی او ورانی کړی بیا به د شپې بی غمه ویده و سهار به همغه پخوانی خلک و په سوداګری کی چل په ریاستونو کی فساد غلا وژنه او داسی نور خراب عملونه بیا به مازیګر همغه ودانی ړنګی او جوړی د شپې بی غمه خوب سهار بیا د تیر عملونه که لږ غوره کس به پیدا شو د

(c) ketabton.com: The Digital Library


کارونو مخالفت به یی ورسره کوو علماؤ به نن په یو څه فتوا ورکړه وبه

یی ویل دا کار ناروا دی سبا به یی ویل روا دی بس دوی نورو ته شر پیدا

کولو کی خپل خیر لټوو چا چی به ښه کول پیغور به یی ورته ورکو او چا

چی به بد کول افتخاری مډالونه به یی ورکول دا خلک بل څوک نه و

افغانان و افغانان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**